# د بېت الله محسود نه د برات اعلانونه؟

مشتاق مجروح یوسفزے

په وزیرستان کښې د فوځي اپرېشن د اعلان نه پس په اخبارونو کښې د وزیرستان د طالبانو د مختلفو ډلو او د هغوي د مشرانو بیانونه شائع کېدل شروع شوي دي ځوک د خط په ذریعه اخبار ته رسائي حاصلوي او ځوک د ټېلیفون د لارې خپل پېغامونه رارسوي چې پکښې اکثر د بېت الله محسود نه د برات اعلان کوي او دا وائي چې زمونږ د هغهٔ سره اختلاف دے، هغه بې ګناه خلق وژني، جوماتونو کښې چاودني کوي، سکولونه الوځوي، د سکولونو او کالجونو ماشومان یرغمال کوي او ټول کارونه ئې د اسلام خلاف دي. ځوک وائي چې مونږ د هغهٔ خلاف لښکر تیار کړے دے او ژوندے ئې نهٔ پرېږدو. په دغه قسمه بیانونو کښې ډېر اهم انکشافات هم منځ ته راځي. لکه تېرو ورځو کښې یو طالب کمانډر ترکستان بېټني یو ټي وي چېنل ته ځنې اهم انکشافات وکړل چې بې نظیر بوټو بېت الله محسود قتل کړې وه او دا چې ملا عمر هغهٔ ته بیا بیا وېنا کوي چې جهاد په افغانستان کښې کوه ولې هغه د ملا عمر خبره نهٔ مني او لګیا دے په پاکستان کښې د بمونو د چاودني کوي.



ترکستان بېټني دا خبره هم کړې ده چې زما د بېت الله محسود سره دوستي وه خو چې کله هغهٔ د ډالرو دپاره مسلمانان حلالول شروع کړل او په ټول ملک کښې ئې چاودني شروع کړې نو زما ورسره اختلافات پېدا شو. دهٔ وئیلي دي چې په پېښور، اسلام اباد او لاهور کښې ځومره حملې شوې دي او ځومره جوماتونه په نخښه کړې شوي دي دا ټول بېت الله محسود کړې دي.

دغسې یو بل طالب کمانډر چې ځان د پېښور د مقامي طالبانو مشر ګڼي اخبار ته په یو خط کښې د طالبانو متعلق ځنې معلومات ورکړي دي او دا خبره ئې هم کړې ده چې اسامه بن لادن د وزیرستان یوې ډلې د افغانانو لیډرانو په مرسته د یو ارب ډالرو په اجرت قتل کړے دے. دې کمانډر هم د بېت الله محسود نه د خپل بریت د اعلان کولو دړکه ورکړې ده او د هغهٔ ټولې کارروایۍ ئې د اسلام خلاف ګرځولي دي. دهٔ په خپل خط کښې د ګلونو ښار پېښور کښې د بمونو د چاودنو سخت مذمت هم کړے دے او دړکه ئې ورکړې ده چې کهٔ د وزیرستان د طالبانو دغه ډله چې په پېښور کښې خود کُش حملې کوي منع نهٔ شوه نو مونږ به د دې

تنظیم نه لاس واخلو. بله خبره ئې دا کړې ده چې اکثر حملې طالبان نهٔ کوي دا نور خلق دي چې پېسې اخلي او دا کارونه کوي. دهٔ خپل نوم سفير عبدالرؤف ښودلے دے. دې وائي چې مونږ د بې ګناه خلقو وينې تويول ناروا ګڼو البته د فحاشۍ اډې ختمول زمونږ غرض او مقصد دے. دهٔ په خپل خط کښې دا هم ليکلي دي چې ما تېرو ورځو کښې د وزيرستان دې ډلې سره خبره هم کړې وه چې تاسو په پېښور کښې چاودنې ولې کوئ نو هغوي ووې چې ولې مونږ مسلمانان نهٔ يُو څهٔ چې په جوماتونو به حملې کوو او بې ګناه مسلمانان به وژنو. دا حملې د افغانستان نه کېږي او د دې د پاره پېسې د هندوستان او امريکې نه راځي.

تېرو ورځو کښې چې په پرل کانټي نټنل کومه حمله شوې وه د هغې ذمه واري عبدالله عزام برېګېډ قبوله کړې وه. دې طالب کمانډر په خپل دې خط کښې د عبدالله عزام د دغې ډلې په حقله ليکلي دي چې دا تنظيم د مصر او عراق نه باغي دے او د اسرائيلو سره ئې ډېر ژور تعلقات دي تر دې چې د هغوي سره ئې رشتې هم کړې دي نو د داسې خلقو نه د خير توقع لرل عبث دي.

دې طالب کمانډر په خپل خط کښې د اې اين پي سره تعلق لرونکې بلور کورنۍ ته سخته دړکه هم ورکړې ده چې کهٔ دوي په خپلو دوو سينماګانو د فلمي پوسټرو په ځائے کلمه طيبه ونهٔ ليکله نو د دواړو سينماګانو به هم هغه حال وي کوم چې څهٔ ورځې وړاندې خلقو ليدلے وهٔ.

سفير عبدالرؤف په خپل خط کښې دوباره دا خبره کړې ده چې کهٔ د وزيرستان د طالبانو ډله په پېښور کښې د خودکُش حملو کولو نه منع نهٔ شوه نو مونږ به د دوي د تنظيم نه دستبرداره شو. دې ليکي چې دوي داسې کارونه کوي چې د هغې په وجه مونږ بدنامېږو او ټول خلق په مونږ لعنت وائي.

دهٔ په خپل خط کښې د پېښور ايس پي عبدالغفور اپريدے اګاه کړے دے چې ستا پلار زما د پلار دوست وهٔ نو د دې وجې نه تا خبروم چې مونږ ته ستا د لرې کولو پرچه راکړې شوې ده، د چارسدې د دورې په موقع ستا د قتل منصوبه جوړه شوې وه خو تر سره نهٔ شوه. د خپل حفاظت ډېر خيال ساته او کلي ته ډېر تګ راتګ مهٔ کوه هم دا قسمه مشوره ئې د پښتونخوا اسمبلۍ سپيکر کرامت الله خان چغرمتي ته هم ورکړې ده او وائي چې زهٔ نهٔ غواړم چې بې ګناه خلق قتل شي. کهٔ په دې مشوره مو عمل ونهٔ کړو نو د خپل ځان به خپله ذمه وار يئ.

په دې حقله چې کوم وړومبے سوال د بنده ذهن ته راځي هغه دا دے چې تر کومې د پاکستان فوځ په وزيرستان کښې د فوځي اپرېشن کولو فېصله نهٔ وه کړې نو دې ښاغلو د بېت الله محسود د دې دومره ناروا کارونو خلاف دا قسمه اعلان ولې نهٔ کولو او د دې فېصلې نه اګاهو د بېت الله محسود د تنظيم نه د برات د اعلان کولو په لاره کښې دوي ته اخر کوم امر مانع وهٔ. د اپرېشن د فېصلې او اپرېشن شروع کولو نه پس د دې خلقو دا قسمه اعلانونه او بيانونه دا ظاهروي چې دوي اوس د فوځي اپرېشن نه ځان بچ کول غواړي ځکه چې په سوات او ملاکنډ ډويژن کښې دوي د خپلو ملګرو تباهي په خپلو سترګو وليدله.

د دې کمانډرانو په خطونو او بيانونو کښې چې کومې خبرې شوې دي هغه هم خپلو کښې ډېرې متضادې دي. د بې نظير بوټو د قتل نه پس بېت الله محسود وئيلي وو چې مونږ پښتانهٔ يو او ښځې وژل زمونږ په کلچر کښې نشته بېخي ئې د هغې د قتل

ذمه واري نهٔ وه قبوله کړې. خو ترکستان بېټنــي چې اوس دا خبره کوي نو پکار وو چې دهٔ هغه وخت يا د هغې نه پس چې کله ورسره د دهٔ دوستانه په دشمنۍ کښې بدله شوه، د دې خبرې رد کړے وے اوس د دهٔ دا خبره هيڅ وزن نهٔ لري چې بې نظير بوټو بېت الله محسود قتل کړې وه او دا هم وائي چې زهٔ د هغهٔ خلاف په عدالت کښې ګواهۍ ورکولو ته هم تيار يم.

اخبارونه د دې خبرې ګواه دي چې د وزيرستان اپرېشن د شروع کېدو نه مخکښې د وزيرستان د هيڅ يو طالبان ډلې له خوا د بېت الله محسود نه د برات اظهار نهٔ وهٔ شوے خو اوس چې فوځي اپرېشن شروع شو نو ټول اعلانونه کوي چې مونږ د بېت الله محسود خلاف يو او مونږ فوځ سره هر قسمه مرستې ته هم تيار يو.

د سفير عبدالرؤف په خط کښې هم دغه شان تضادات ډېر دي لکه چې هغه وائي چې د بې ګناه خلقو وينې تويول د اسلام خلاف دي، په جوماتونو او سکولونو کښې چاودنې کول ناروا دي خو خپله چې کله د بلور کورنۍ خبره راشي نو وائي چې په دواړو سينماګانو دې د فلمي پوسټرو په ځائے کلمه طيبه وليکي ګني مونږ به ئې والوځو. يو خو په دې خبره کښې لويه غلطي دا ده چې د سينما په عمارت د فلمي پوسټر په ځائے د کلمه طيبې ليکل نــه خبره نهٔ ده پکار ده چې دا ئې وئيلے وے چې دغه سينما ګانې دې بندې کړي او کهٔ داسې ونهٔ شو نو دې به هم لکه د بېت الله محسود په دې سينماګانو خودکش حمله وکړي او سينماګانې به تباه کړي خو دا سوچ نهٔ کوي چې د پېښور په مصروفو ځايونو کښې ابادو دغو سينماګانو کښې د چاودنو په نتيجه کښې به ځوک مري؟ او آيا د دهٔ دا خودکش حمله به د اسلام خلاف يا ناروا نهٔ وي؟

د سفير عبدالرؤف د خبرو نه داسې معلومېږي چې دې لا اوس هم د دغې تنظيم سره تړلے دے او لکه د ترکستان بېټني ئې ترې د دستبردارۍ اعلان نهٔ دے کړے او دا ئې هم د دې خط نه په ډاګه کېږي چې د منګل باغ د ډلې سره تعلق لري ځکه چې د هغهٔ ئې ډېر صفت کړے دے. خو داسې ممکنه ځکه نهٔ ده چې د منګل باغ د ډلې تر اوسه د وزيرستان د طالبانو سره د څهٔ تعلق او رابطې خبر زما د نظره نهٔ دے تېر شوے.

د سفير عبدالرؤف خبرو کښې يوه خبره د اېس اېس پي او سپيکر صاحب متعلق ده چې د هغوي د لرې کولو کار ورته حواله شوے دے او هغوي ئې اګاه کړي دي چې ډېر حفاظت کوئ ځکه چې دوي نهٔ غواړي چې بې ګناه خلق مړهٔ کړي. دا خبره ئې د ټولو نه عجيبه ده چې يو خو ورته د هغوي د لرې کولو يعني الوځولو کار په غاړه شوے دے او دوي قبول کړے هم دے او بل هغوي خبروي هم چې ځان ساتئ او دا هم وائي چې بې ګناه خلق وژل نهٔ غواړم. د اېس اېس پي متعلق خو ئې دا وئيلي دي چې د دهٔ پلار زما د پلار دوست وهٔ خو د سپيکر صاحب متعلق ئې داسې څهٔ خبره نهٔ ده کړې چې هغه په څهٔ د دومره رعايت مستحق ګڼلے شوے دے.

دا ټولې خبرې څهٔ د سوات او ملاکنډ د کامياب فوځي اپرېشن چې لا سر ته نهٔ دے رسېدلے خو نتيجې ئې په ډاګه شوي دي له وجې او څهٔ د موجوده وزيرستان فوځي اپرېشن نه د بچ کېدو حربې کېدے شي نور هيڅ هم نهٔ.